DEPARTMENT OF HEALTH

# د TB لپاره د وينې معاينه څه شی دی؟

د نري رنځ يا توبرکلوز (TB) د وينې معاينه، چې د انټرفيرون ګاما ريليز ايسی يا IGRA ورته هم ويل کيږي، د دې معلومولو يوه لاره ده چې آيا ستاسو بدن کې د TB ميکروبونه موجود دي. د وينې دوه شته معاينات QuantiFERON®-TB او T-SPOT®.TB دي.

## تاسو بايد د TB معاينه وکړئ که تاسو:

- د يو داسې چا سره په مکرر ډول نږدې تماس کې پاتې شوي ياست چې فعال انتاني TB لري،
- په داسې يو هيواد کې اوسيدلي ياست چيرې چې ډيری خلک TB لري،
- د نرسنګ په کور، کلينيک، روغتون، زندان، يا د بې کوره خلکو سرپناه کې کار کوئ يا اوسيږئ ،
- يا ستاسو د معافيت سيستم کافي پياوړی نه دی.

د 2 کالو څخه کم عمره ماشومان بايد د TB لپاره د وينې معاينې پرځای د پوستکي له لارې معاينه وکړي.

## زه څنګه کولی شم د TB لپاره د وينې معاينه ترلاسه کړم؟

د خپل روغتيايي پاملرنې چمتو کونکي څخه پوښتنه وکړئ. دوی به لږ مقدار کې وينه واخلي او لابراتوار ته به يې وليږي. ستاسو د روغتيايي پاملرنې چمتو کوونکی بايد په څو ورځو کې تاسو ته ووايي چې ايا ستاسو د معاينې پايله منفي يا مثبته ده.

## که زما د TB معاينه منفي وي نو څه به وشي؟

د TB لپاره د وينې د معاينې منفي پايله معمولاً دا معنا لري چې تاسو په خپل بدن کې د TB ميکروبونه نلرئ.

## که زما د TB معاينه مثبته وي نو څه به وشي؟

د TB لپاره د وينې د معاينې مثبته پايله دا معنا لري چې تاسو شايد په خپل بدن کې د TB ميکروبونه ولرئ. ډيری خلک چې د TB د وينې معاينه يې مثبته وي د TB پټ انفيکشن (انتان) لري. د ډاډ ترلاسه کولو لپاره، ستاسو د روغتيايي پاملرنې چمتو کوونکی به تاسو معاينه کړي او د سينې ايکس رې به واخلي. تاسو ښايي نورو معايناتو ته اړتيا ولرئ ترڅو معلومه شي چې تاسو د TB پټ انتان که فعاله TB لرئ.

## د TB پټ انفيکشن يا انتان څه شی دی؟

TB دوه مرحلې لري. دواړه مرحلې د درملو سره تداوي کيدی شي.

کله چې د TB جراثيم ستاسو بدن ته ننوځي، دوی د TB د پټ انتان لامل کيږي. د درملنې پرته، د TB پټ انتان کولی شي په فعاله TB بدل شي.

| مرحله 1 –<br>د TB پټ انتان | مرحله 2 –<br>فعاله TB |
|---|---|
| د **TB** جراثيم ستاسو په بدن کې غير فعاله ('ويده') وي. دا مرحله کولی شي د اوږدې مودې لپاره دوام وکړي – حتی ډيری کلونه. | د TB جراثيم فعال ('بيدار') دي او خپريږي. دوی لګيا دي ستاسو بدن کې نسج ته زيان رسوي. |

| – مرحله 2<br>فعاله TB | – مرحله 1<br>د TB پټ انتان |
| --- | --- |
| تاسو معمولاً د ناروغی احساس کوئ. ستاسو د روغتیایي پاملرنې چمتو کوونکی به ځانګړي معاینات ترسره کړي ترڅو معلومه کړي چې د TB میکروبونه ستاسو د بدن کومې برخې ته زیان رسوي. | تاسو ناروغ نه ښکارئ یا د ناروغی احساس نه کوئ. ستاسو د سینې ایکس رې معمولاً نورماله وي. |
| که د TB جراثیم ستاسو په سږو کې وي، تاسو کولی شئ د ټوخي، پرنجي، خبرو کولو یا سندرې ویلو له لارې TB نورو خلکو ته خپور کړئ. | تاسو نشئ کولی د **TB** میکروب نورو خلکو ته خپور کړئ. |
| لږترلږه شپږو میاشتو لپاره د دریو یا څلورو درملو په اخیستلو سره تداوي کیږئ. | د دریو څخه تر څلورو میاشتو پورې د یو یا دوه درملو په اخیستلو سره تداوي کیږئ. |

## که ما د **BCG** واکسین کړي وي نو څه به کیږي؟

د BCG واکسین (د TB واکسین) د کوچني ماشومانو سره د فعاله TB له امله د ډېر ناروغ کیدو څخه ساتنه کې مرسته کوي. دا محافظت د خلکو د عمر په ډېریدو سره له منځه ځي.

هغه خلک چې د BCG واکسین یې ترلاسه کړي وي بیا هم د TB په پټ انتان او فعاله TB اخته کیدی شي.

که تاسو د BCG واکسین ترلاسه کړي وي او تاسو د TB د ویني معاینه یا د TB د پوستکي معاینه کولو انتخاب لرئ، ستاسو لپاره غوره ده چې د TB د ویني معاینه وکړئ. دا ځکه چې د TB د ویني معاینه د BCG واکسین لخوا نه اغیزمنه کیږي. دا پدې مانا ده چې ستاسو د TB د ویني معاینه به یوازې هغه وخت مثبته وي کله چې ستاسو بدن کې د TB میکروبونه شتون ولري.

خپله روغتیا او د خپلې کورنی روغتیا خوندي کړئ - د TB د ویني معاینه ترسره کړئ!

Minnesota Department of Health
Tuberculosis (TB) Prevention and Control
or 651-201-5414 1-877-676-5414
www.health.state.mn.us/tb

02/24

په بدیله بڼه کې د دې معلوماتو ترلاسه کولو لپاره، دې شمیرې ته زنګ ووهئ: *651-201-5414*